# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے



# د تکلیف نه تر واغظ کولو پورې.

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.





په وړومبنو جماعتونو کښې خدائ د خپلو خلقو په ذریعه لوئ لوئ کارونه وکړل، فلیفوس نومې یو سړے په یو لوئ ښار کښې د عسی مسیح په حقله خلقو له تعلیم ورکولو کښې مصروفه وو. خو خدائ پاک هغه بیابان ته ولیږی. ولې؟


خدایٔ ته پته وه چې په بیابان
کښې یو مسافر روان وو، چې د
خبشی د ملکې یو وزیر وو. هغه
خپل کور ته روان وو او یو
خاص کتاب یې لوستلو. تاسو ته
پته ده چې هغهٔ کوم کتاب لوستلو؟
3


فیلفوس د خدایٔ تابعداری وکړه، نو خدایٔ هغه سېدها
د هغه وزیر
خداته ولېږه
چا چې د
خدایٔ کالام
بغېر د پوهې
نه لوستلو. هغهٔ
فیلوفوس له دعوت
ورکړو چې هغهٔ سره
یو ځایٔ شی.
4


وزیر د فیلپوس نه پوښتنه وکړه. د دې
څهٔ مطلب دے؟ چې کله ګاډیٔ د صحره
په لار باندې روانه وه نو فلیفوس خبرې
شروع کړې او هغهٔ د کلام مقدس
نه د عیسی مسیح زیرے
شروع کړو.
5


حبشی وزیر فوراً
په کتاب مقدس باندې
ایمان راوړلو چې عیسی
مسیح د خدایٔ زویٔ دے. او بیا
هغویٔ اوبه ولیدې، هغهٔ ووئیل، اوس به
ما د بپتسمې اخستلو نه څوک منع کړی؟
6


بیا فلیفوس وائی، کهٔ تهٔ د زړهٔ نه ایمان راوړې
نو بپتسمه اخستلے شې، فلیفوس هغه اوبو
خواته بوتلو او بپتسمه یې ورکړه.
7


چې کله هغویٔ د اوبو نه رابهر شو
نو د خدایٔ روح فلفوس د هغه ځایٔ
نه بوتلو او حبشی وزیر هغه بیا
ونهٔ لیدو. او هغه په خوشحالیٔ سره
واپس ایتهوپیا ته لاړو.
8



خو ځیني خلقو د مسیحیانو نه نفرت کولو. خلق غصه
کښې راغلل او د فیلیفوس ملګرے استفانوس یې قتل کړو،
هغوئ نه غوښتل چې هغه د عیسی مسیح په باره کښې تعلیم
ورکړی. د ترسیس نه ساؤل نومې سړی د استفانوس په
وژلو کښې مدد وکړو. ساؤل د ټولو مسیحیانو
نه ډېر سخت نفرت کولو.

9



ساؤل غوښتل چې مسیحیانو له
دهمکیاني ورکړي او وې وژنی، نو
دې د پاره هغه مشر امام خواته
لاړو. او هغهٔ ترې لیکل واخستل
چې هغه ټول ښځې او سړی ګرفتار
کړی څوک چې په عیسی مسیح
باندې ایمان راوړی.

10



د ترسیس غریب ساؤل!
هغهٔ ته نهٔ وه پته چې کله
هغه د خدائ خلقو ته
نقصان رسولو نو هغهٔ
په حقیقت کښې مالک
عیسی مسیح ته نقصان
رسولو. خدائ هغه منې
کولو خو څنګه؟

11



خدائ ساؤل ګرفتار کړی.
کله چې هغه د دمشق په
لاره روان وو، نو خدائ
پرې د آسمان نه یوه
ځلیدونکي رڼا راولېږله،
ساؤل په زمکه پرېوتو، بیا
هغهٔ یو آواز واورېدو.

12



ساؤل ووئیل اے مالکه تهٔ څوک یې؟ زهٔ عیسی
مسیح یم، چې تهٔ ورله تکلیف ورکوې. په یره او
حېرانتیا سره ساؤل تپوس وکړو. اے مالکه تهٔ
زمانه څهٔ غواړې چې زهٔ یې وکړم؟ او مالک هغهٔ
ته ووئیل پاڅه ښار ته لاړ شه او څهٔ چې تا له
کول په کار یې هغه به درته ووئیلے شی.

13



ساؤل سره چې
کوم سړی وو
هغوئ هم دا آواز
واورېدو خو څوک
ونهٔ لیدل. ساؤل د
زمکې نه پاڅېدو
نو ورته معلومه
شوه ړوند شوے
دے. هغوئ هغه
دمشق ته بوتلو.

14


په ښار کښې ساؤل تر
درېو ورځو پورې هيڅ
خوراک څښاک ونۀ کړو
او ړوند وو. هغۀ خپل
وخت مالک عيسی مسيح
نه دعا غوښتلو کښې تېر
کړو چې د دمشق په لار
ورسره ملاو شوے وو.
15


خدائ د ټول هر څۀ منصوبه د
مخکښې نه جوړه کړې وه. په دمشق
کښې حننياه نومې يو شاگرد وو، خدائ
هغه د ساؤل مدد د پاره ولېږۀ.
حننياه ويرېدو خو هغۀ د خدائ
تابعداری وکړه. کله چې
هغۀ په ساؤل لاس
کېښودل نو هغه بينا
شو. او ساؤل د
خدائ د پاک روح
نه معموره شو.
16


ساؤل بپتسمه واخستله او روټئ يې
وخوړه او چې کله يې ډوډئ وخوړه
نو طاقت ورته ملاو شو. ساؤل ته د
طاقت ضرورت وو، ځکه چې هغۀ
له يو خاص کار کول وو.
17


او سمدستی ساؤل په عبادتخانه کښې د عيسی
مسيح واعظ شروع کړو چې هغه د
خدائ زوئ دے. بيا چا چې د هغۀ
خبرې واورېدې نو حېران شول او
وې وئيل، ولې دا هغه سړے نۀ
دے چې مسيحيان
به يې وژل؟ او
څنو د ساؤل د
وژلو منصوبه
هم جوړه
کړه.
18


د ساؤل نوی دشمنانو به د
ښار په دروازو نظر ساتلو،
چې کله هغه د ښار نه بهر
ووځی نو مړ به يې کړی.
خو د هغۀ نوو مسيحيانو
ملگرو هغه د ښار دېوال نه
په يوه لويه ټکرئ کښې
لاندې کوز کړو.
19


اور پھر تب سے ساؤل نے
اپنی زندگی جو مسیحیوں کو ستانے
والا تھا اپنے نئے مالک یسوع
مسیح کے وفادار پیروکار کے
طور پر گزاری۔ او بيا د هغۀ
وخت نه ساؤل مسيحيانو له
تکليف ورکول پرېښودل. او خپل
ژوند يې د نوی سر نه د عيسی
مسيح د وفادار پېروکار په
طور شروع کړو.
20

د تکلیف نه تر واغظ کولو پورې

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

اعمال ۸ ـ ۹

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119

21




58 60

22

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وایې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولیٔ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

23